مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۴/۰۲

# یوه سکه، دوه مخه

که پښتون يې که تاجک يې که کوم بل
ته اټک يې ته پنجده يې ته کابل

ښکلی بوټی د بابر د باغ په زړه کې
ته ريښه يې ته ساقه يې ته يې ګل

دښتې غرونه تصويرونه د غوغا يی
ته باښه يې ته غرڅه يې ته بلبل

عظمتونه دې په شاړو کې پراته دي
لکه بست لکه ميوند لکه زابل

د کابل بالاحصار د مټو زوره
ته ډبره ته پخڅه يې ته کاګل

د سپيدو د سپين سبا سپينه امامه
ته يې ناړی ته يې سوک ته يې څنګل

*****

په قلم کې مې غرور و غريدلی
په ککره کې مې څرک شوؤ د مغل

پاڅه، پاڅه خياليګره ليونيه
کاروان تللی ته له ځانه يې غافل

که پښتون يې که تاجک يې که کوم بل
ګډ به نشی تر ابده يو پر بل

آرمانونه به تر ګوره درسره وي
دا مدفن به وي ټپي لکه بسمل

قيامتونه دي په لاره کې پراته دي
ته بد مست او د يوانه يې لکه مل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

مگر نه وینې چې څرنګه ډوبیږي
د خزان په تاو رژیږي لکه ګل

د نامردو پاچاهۍ درپکې جوړې
که شمال یې که جنوب یې که کوم بل

یو پر بل پسې ډوبیږي او ورکیږي
که میوند یې که پنجشیر یې که کابل

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ